# قَارِبُوا وَسَدِّدُوا، وَاعْلَمُوا أَنَّهُ لَنْ يَنْجُوَ أَحَدٌ مِنْكُمْ بِعَمَلِهِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَلَا أَنْتَ؟ قَالَ: «وَلَا أَنَا، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ». «عمل له افراط او تفريط پرته بشپړوالي ته ورنږدې کړئ او يا يې بشپړ ادا کړئ، او پوه شئ چې هېڅوک به ستاسو څخه په عمل ونه ژغورل شي». هغوی وويل: ته هم اې د الله رسوله؟ هغه وفرمايل: «زه هم نه، مګر دا چې الله مې په خپل رحمت او مهربانۍ کې پټ کړي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «قَارِبُوا وَسَدِّدُوا، وَاعْلَمُوا أَنَّهُ لَنْ يَنْجُوَ أَحَدٌ مِنْكُمْ بِعَمَلِهِ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَلَا أَنْتَ؟ قَالَ: «وَلَا أَنَا، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ بِرَحْمَةٍ مِنْهُ وَفَضْلٍ». «عمل له افراط او تفريط پرته بشپړوالي ته ورنږدې کړئ او يا يې بشپړ ادا کړئ، او پوه شئ چې هېڅوک به ستاسو څخه په عمل ونه ژغورل شي». هغوی وويل: ته هم اې د الله رسوله؟ هغه وفرمايل: «زه هم نه، مګر دا چې الله مې په خپل رحمت او مهربانۍ کې پټ کړي».

[صحيح] - [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام عمل کولو ته هڅوي او دا چې له الله څخه تر خپلې وسې پورې وويريږي، پرته له دې چې (په عمل کې) افراط او تفريط وکړي، او د دې لپاره چې عمل يې قبول شي او له امله يې پرې د الله جل جلاله له خوا رحمت نازل شي نو په خپل سم عمل سره دې نيت الله جل جلاله ته خالص کړي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پيروۍ سره سم دې تر سره کړي. بيا يې خبر ورکړ چې ستاسو څخه به هېڅوک يوازې په خپل عمل سره ونه ژغورل شي؛ بلکې د الله جل جلاله رحمت اړين دی. هغوی وويل: ته هم اې د الله رسوله، آيا ستا عمل د دې ستر ارزښت سره سره هم تا نه شي ژغورلی؟ ويې ويل: زه هم، پرته له دې چې الله مې په خپل رحمت وپوښي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3469